خبردار اوسئ! شراب حرام شول

له انس رضی الله عنه څخه روایت دی وایي: زه د ابو طلحه په کور کې ساقي وم، په هغه ورځ د خلکو شراب "فضیخ" و -له خرما جوړ شوي شراب- نو رسول الله اعلانوونکي ته امر وکړ چې خلکو ته اعلان وکړي چې : خبردار اوسئ! شراب حرام شول، انس وایي: ابوطلحه راته وویل: وځه، دا شراب توی کړه، نو زه ووتلم او شراب مې توی کړل، تر دې چې د مدینې په کوڅو کې وبهېدل، ځینو خلکو وویل: " ځینې خلک چې مړه شوي او شراب یې په نسونو کې و (یعنې د هغوی به څه کېږي) نو الله تعالی دا آیت نازل کړ: {لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا}(المائدة: 93 آیت) یعني: پر هغو کسانو چې ایمان یې راوړی او نیک کارونه یې کړي په پخواني خوراک او څښاک کومه ګناه نشته...)

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

انس بن مالک رضي الله عنه خبر ورکو چې دی د هغو کسانو د سقاېې (اوبه ورکولو) په کار کې بوخت و، چې د ده د مور د خاوند ابوطلحه رضي الله عنه په کور کې وو، او هغه مهال د دوی شراب «فضیخ» وو، چې د پخو او نیمه پخو خرماوو ګډ شراب دي، ناڅاپه د رسول الله صلی الله علیه وسلم اعلانوونکي اعلان وکړ چې: «خبردار! شراب حرام شول» وایي ابو طلحه راته وویل: «وځه، دا شراب توی کړه او چپه یې کړه» نو زه ووتلم، شراب مې توی کړل او چپه مې کړل، نو شراب د مدینې په کوڅو کې روان شول، ځینو خلکو وویل: «ځینې صحابه د شرابو له تحریم نه مخکې وژل شوي او حال دا چې شراب یې په ګېډو کې و» (یعنې د هغوی حکم به څه وي؟) نو الله تعالی دا آیت نازل کړ: {پر هغو کسانو چې ایمان یې راوړی او نیک کارونه یې کړي په هغه څه کومه ګناه نشته چې پخوا یې خوړلي او یا څښلي دي}. [المائدة: 93 آیت]. یعنې: پر هغو کسانو چې ایمان یې راوړی او نېک عملونه یې کړي، ګناه نشته په هغه څه کې چې دوی(له حرمت نه مخکې) خوړلي او یا څښلي دي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66034